د افغانستان اسلامی امــارت
د کانونو او پټرولـیم وزارت



# د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گڼه: ۵۰

یته: ۲۴/لیندی/۴۰۱

# د ټاپي پروژې اجرائیوي رئیس او د ترکمنستان له سفیر سره د کانونو او پټرول
# وزارت سرپرست لیدنه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د تخنیکي مرستیال انجنیر وحیدالله حلیمي او د پالیسي مرستیال ضیاءالرحمن الاریوبي په ګډون د ټاپي پروژې له اجرائیوي رئیس ښاغلي محمد مراد امانوف او په کابل کې د ترکمنستان هیواد سفیر خواجه عوضوف سره د سه شنبې په ورځ د 1401/9/8 نېټې ورسره لیدنه وکړه.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور مېلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل: چې د ټاپي د ګازو نل لیکي پروژه یوه له سترو اقتصادي او ټولنیزو پروژو څخه ده چې د افغانستان په خاوره کې له پلي او عملي کولو سره به په هیواد کې د کاري فرصتونه زیاتوالی او پانګوني رامنځته شي. د افغانستان خلک او اسلامي امارت په افغانستان کې د ټاپي پروژې عملي پېل ته په بې صبرۍ سره انتظار باسي.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست زیاته کړه: دا چې افغانستان په ښه امنیتي وضعیت کې دی نو باید چې له دې فرصته څخه ګټه پورته کړو او د دواړو هیوادونو افغانستان او ترکمنستان په همکارۍ سره هر څومره ژر چې کېږي د ټاپي پروژې عملي کار پېل کړو.

د ټاپي پروژې اجرائیوي رئیس محمد مراد امانوف هم د ټاپي پروژې د پلانونو او پرمختګونو په اړه خبرې وکړې او وویل: چې ترکمنستان د ټاپي پروژې د عملي کار د پېل لپاره په چټکۍ سره کار کوي او په نږدې راتلونکي کې به له افغانستان سره په دې اړه یو واضح کاري پلان شریک کړي. او همدارنګه یې یادونه وکړه چې په هرات ولایت کې به د ګازو د وېش د زېرمو د جوړولو په برخه کې د ترکمنستان د همکارۍ په اړه مشخص پروګرام وړاندې کړي..

# د 70 زره ټنه جغله مالکي پلور داوطلبي



د فارياب ولايت اندخوی ولسوالی 70 زره ټنه جغله مالکي داوطلبي سه شنبه د 1401/9/8 نېټې د کانونو او پټرولیم وزارت د غونډو په تالار کي په شفافه توګه تر سره شوه.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د فارياب ولايت اندخوی ولسوالی جغله مالګه چي مخکي اعلان ته سپارلي وه، نن یي د پلان او پالیسی مرستیال ضیاالرحمن الاریوبي، د مالي او اداري مرستال مولوي حسام الدین صابري، د یو شمېر رنیسانو، موظف هیئت او د مالکي اخیستلو متقاضیانو په شتون کي داوطلبي په شفافه توګه تر سره کړه.
په دغه داوطلبی کي د عبید ایوب نوري شرکت في ټن په 2651 دوه زره، شپږ سوه او یو پنځوس افغانی ګټونکی اعلان کړ.



# د هرات ولایت د غوریان د اوسپنې او د غور ولایت د سرب او جست پروژو د چارو د پرمختګ په اړه بین الوزارتي ناسته



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور په مشرۍ د هرات ولایت د غوریان د اوسپنې او د غور ولایت د سرب او جست د پروژو د چارو د پرمختګ په اړه د سه شنبې په ورځ د 1401/9/15 نېټې د مالیې وزارت سرپرست مولوي هدایت الله بدري، د اقتصاد وزارت سرپرست قاري دین محمد حنیف، د صنعت او تجارت، د اوبو او انرژۍ او د چاپېریال ساتنې وزارتونو استازو، د یاد وزارت مرستیالانو او یو شمېر رئیسانو، رسنیو او داوطلب شرکتونو په شتون کې تر سره کړه.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور مېلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ، د یادو کانونو د ظرفیت او مساحت او د اکتشاف،پروسس او استخراج پروسې په اړه یې ګډونوالو ته معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، د کمیټې له خوا د پروپوزلونو له ارزونې وروسته به هغه شرکتونه چې کاري تجربه، لوړ تخنیکي او مالي ظرفیت ولري په دې بهیر کې ګټونکي شي.

وروسته بیا د کاداستر او د منرالونو د تنظیم عمومي رئیس او د لویو کانونو د چارو سرپرست رئیس حافظ فرید براتزي د یادو پروژو د پرمختګ په اړه لنډ معلومات وړاندې کړل. او وویل چې د غور ولایت سرب او جست 4 بلاک ته 10 شرکتونه او د هرات ولایت د غوریان اوسپنې 4 بلاک ته 20 شرکتونه د شراطو وړ پېژندل شوي دي.

# د خوست او پکتیا ولایتونو د کرومایټ کانونو د 5 ساحو داوطلبي تر سره شوه





د کانونو او پټرولیم وزارت د خوست او پکتیا ولایتونو د کرومایټ کانونو 5 ساحو داوطلبي یکشنبه 1401/9/13 نېټې د یاد وزارت د غونډو په تالار کې د رسنیو په شتون کې په شفافه توګه تر سره کړه.
د خوست ولایت د رخک منګي، د زن شوره، لومړی او دوهم بلاک او ورژله او د پکتیا ولایت کوه مکاوه سیمو کانونو چې مخکې اعلان ته سپارلي وو. د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، تخنیکي مرستیال انجنیر وحیدالله حلیمي، د پلان او پالیسي مرستیال شیخ ضیاءالرحمن الاریوبي، تاکلي هیئت او هغو شرکتونو په شتون کې داوطلبي تر سره کړه چې د پروپوزلونو په ارزونه کې یې د داوطلبی شرایط پوره کړي وو.
په دغه داوطلبی کې

.1د خوست ولایت تڼي ولسوالی ورژله سیمي ګټونکی د شرق نفرایټ شرکت د رویالټي قیمت سره في ټن 9200 افغانیو.
.2د خوست ولایت د جاجي میدان ولسوالی رخک منګي سیمي ګټونکی د کریم وردګ شرکت د رویالټي قیمت سره في ټن 10500 افغانیو.
.3د خوست ولایت د ګربز ولسوالی زنشوره دوهم بلاک سیمي ګټونکی د عبید ایوب نوري شرکت د رویالټي قیمت سره في ټن 11351 افغانیو.
.4د خوست ولایت ګربز ولسوالی د زنشوره سیمي ګټونکی د افغان سپک شرکت د رویالټي قیمت سره في ټن 9500 افغانیو.
.5د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی د کوه مکاوه سیمي ګټونکی د آر جي ایم انترنیشنل شرکت د رویالټي قیمت سره في ټن 10585 افغانیو.
په ارزښت ګټونکي اعلان کړل.

# د نفرایټ کانونو د قراردادي شرکتونو له استازو سره د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست لیدنه

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د پلان او پالیسي مرستیال شیخ ضیاءالرحمن الاریوبي او د جیولوجي سروې مرستیال انجنیر نورالله ستانکزي په ګډون د نفرایټ کانونو د قراردادي شرکتونو له یو شمېر استازو سره د چهارشنبې په ورځ د 1401/9/16 نېټې ولیدل.
په پیل کې د شرکتونو استازو د نفرایټ ډبرو د استخراج څرنګوالي په اړه د وزارت مشرتابه ته لنډ معلومات وړاندې کړل. او همدارنګه یې د کان کېندنې د بنه والي په برخه کې خپلې ستونزې او وړاندیزونه ورته وویل .
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د دوی د ستونزو او وړاندیزونو له اورېدو وروسته یې ورسره د همکارۍ ژمنه وکړه.

د امتیاز خاوند: د کانونو او پټرولیم وزارت

مسوول مدیر: محمد فرهاد (عبیدی)

ترتیب او تنظیم : استاد نجیب الله (رحیمي)

طرح او دیزاین: محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)

ادرس: عبدالحق څلور لاري، کابل، افغانستان
د اړیکو شمیره: +93202304455
الکترونیکي پته:
www.momp.gov.af
PR@momp.gov.af